UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**ملګري ملتونه له فساد سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان د پرمختګونو هرکلی کوي**

**کابل، د ۲۰۷ کال د اپریل ۲۵مه -** د ملګرو ملتونو نوی راپور چې نن خپور شو، ښیي چې د افغانستان مسؤولینو د فساد سره په مبارزه کې پرمختګ کړي، په داسي حال کې چې ستر خنډونه اوس هم شتون لري.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي تدامیچي یاماموتو وویل: " د هیواد د راتلونکي لپاره فساد باید په افغانستان کې له منځه ویوړل شي. ملګري ملتونه په دي برخه کې لاسته راغلي پرمختګونو ته ښه راغلاست وایي او د فساد سره په مبارزه کې د دولت روان کوښښونه چې د معافیت د لمنځه وړولو لامل ګرځي، حساب ورکونه او شفافیت تامین کوي او د عامه خدماتو، مالي او د طبیعی منابعو د اداري د اعتبار د بیا راګرزولو سبب ګرځي، په بشپړه توګه ملاتړ کوي".

افغانستان له فساد سره د مبارزې تر عنوان لاندي راپور: د جګړې بل ډګر، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ماموریت ( یوناما) په هغو لاسته راوړنو چې د فساد سره د مبارزې نه ترلاسه شوي ټینګار کوي او په نړیواله کچه پیژندل شوو هغو اقداماتو چې دولت ته سپارښتنی کوي چې څنګه دولت  د نړیوالو ټولنو او خلکو په ملاتړ دغه لاسته راونی نورې هم زیاتې کړي، ټینګار کوي.

د یوناما مشر وویل : " زه هیله من یم چې له فساد سره د مبارزي په برخه کې ترلاسه شوي پرمختګونه او هغه سپارښتنی چې زمونږ په راپور کې راغلي، په افغانستان کې له فساد سره د مبارزي په برخه کې د پالیسیو د لا انسجام او همغږی کیدو لامل شي."

دغه ریپوټ چې د خپریدو څخه مخکې د افغانستان وزارتونو او عدلي ارګانونو ته د هغوی د نظر او تایید لپاره  لیږل شوی و، په کې اشاره شوې چې فساد په افغانستان کې د ژوند ټولې برخې اغیزمنې کړي، په دولتي ادارو یی د خلکو باور لږ کړي او هیواد ته د تل پاتی سولي او سعادت د راوستلو د کوښښونو په مقابل کې خنډ ګرځیدلي.

له فساد سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز، چې د ولسمشر په فرمان رامنځ ته شوی، د ژمنو پولیسو ، څارنوالانو او د ابتدائیه او د استیناف محکمې په لرلو سره ، د افغانستان د فساد پر وړاندې د مبارزې مهم عنصر دی. یاد مرکز د پراخ فساد جرمونو چې په اوسني جزا قانون کې مشخص شوي، او همدارنګه د پیسو تطهیرولو جرایمو، د فرهنګي او تاریخي آثارو له منځه وړلو او یا پلورلو، د کورني او بهرني امنیت په خلاف جرمونو، د کانونو ناقانونه استخراج، او د ځمکو غصب پر وړاندې جرمونو په برخه کې فعالیت کوي.

له فساد سره د مبارزې عدلي مرکز له پرمختګونو سربیره، چې په فعاله توګه تحقیق، څار او د قضیو فیصلې تر سره کوي، دا راپور ښیي چې افغانستان په عامه مالي چارو او د عامه خدمتونو د وړاندې کولو په مدیریت کې بنسټیز پرمختګ کړی.

دغه راپور څو سپارښتنې کړي، او دا مني چې له فساد سره د حکومت د روانی مبارزې هڅې باید د زیاتو افغانانو پر ژوند اغیزه وکړي او دې پایلې ته رسیدلی چې، سره له دې چې د قانون او پالیسیو زیات اصلاحات تر سره شوي، فساد لا تر اوسه د افغانستان د سولې او سوکالۍ په وړاندې د پام وړ خنډ دی.

یاماموتو وویل: "دا راپور په ډاګه کوي چې د فساد پر وړاندې مبارزه په لنډه موده کې نه ګټل کیږي، او دا مبارزه د حکومت او د عامه خلکو دوامدارې ژمنتیا او د نړیوالې ټولنې بشپړ ملاتړ ته اړتیا لري."

* * *

بشپړ ریپوټ د یوناما په ویبسایټ کې د لاسرسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/corruption

*په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د یوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چارې وړاندې کوي. "د ښه نیت چارې" هغه ډیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي ډول دخپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت داری د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو څارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالۍ ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږې پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.*